# بنګلا



لیکوال: داکټر معمار حشمت الله اثمر
پېښلیک: لیندی / کال ۱۴۰۷لیږدی

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library


## لیکي پوهه:

**سرلیک:** ښکلا

**لیکوال:** داکتر مهندس حشمت الله ,, اتمر ،،
**ایډېټور:**
**د پخښنتی ډیزان:** داکتر مهندس حشمت الله ,, اتمر ،،
**خپرندوی:**
**چاپشمېر:** ۲۰
**چاپ نېټه:** **لیندی**/ کال ۱۴۰۷
**واټس اپ:** +۹۳۷۹۹۳۷۶۹۹۸
**برېښنالیک:** atmar_hashmatullah@yahoo.com

د چاپ حقوق له لیکوال او خپرندوی سره خوندي دي، بې اخځ ښوونې ترې د ګټې اخیستنې اجازه نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکلا

......

# لړلیک

**سرلیک** **چوپړی**


پخبنتیۍ.......................................................... ۱
بسم الله الرحمن الرحیم ............................................. ۲
لیکي پوهه:........................................................ ۳
لړلیک ............................................................. ٤
تراڼ (پیل، شروع، برید)............................................. ٥
د یادښتونو له پاره:................................................ ۷
داستان............................................................. ۸
د چاپ شویو کتابونو لیست........................................... ۷٤
د کار لاندې کتابونو لیست .......................................... ۷۹
د وخت او امکان په صورت کې........................................ ۸۰
د پخبنتیۍ څټ ...................................................... ۸۱

(c) ketabton.com: The Digital Library


## تراڼ (پیل، شروع، برید)

بِسْمِ اللّهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيمِ، اَلْحَمْدُ لِلّهِ إجْلَالًا لِقُدْرَتِهِ، وَ لَا إلَهَ إلَّا اللّهُ خُضُوعاً لِعِزَّتِهِ، وَصَلَّى اللّهُ عَلَى مُحَمَّدٍوَآلِهِ .

بې پايه ستاينه او بې حده مننه، د هغه سپېڅلي ذات نه چې د وجود مانۍ او کاينات يې د انساني وجود د تکامل او د انسان له پاره د خپل سپېڅلي ذات او عبادت د حقيقت له پېژندلو پرته جوړ کړل.
هغه د ذات پوهه، عالي، لوړ او ښکلي نومونه دي، او کائناتو د پيدايښت يوه حتمي لامل دی.
عظمت، د ټولې نړۍ موجوديت، د ناڅاپه څخه راوتل، حق د رسيدو جوهر په يوه والي کې د اعتراف، تباهۍ او بې وسۍ يوه له لوړو وسيلو څخه دی.

**ګرانو لوستونکو!**
دا ځل مې و غوښتل يوه بل ناول چې کيسه يې په ننګرهار ولايت يوې وروسته پاتې ولسوالۍ او مزي ته (سرحد ته، کرښې ته يا بورډر ته) نږدې پيل شوې، او څنډ وروسته الته پای ته رسېدلې ده، وليکم او د خپلو کتابونو مينوالو او لوستونکو سره يې ګډ (شريکه) کړم.

زما د کتابونو مينه وال يوازې معماران او انجينران نه دي، او نه بايد اوسي، نوځکه غواړم ورځ په ورځ د خپلو ليکونو کې توپير راوړم چې د هرې ځانګې مينه وال په کې ډېر شي، دا کار به

(c) ketabton.com: The Digital Library
**ښکلا**

**......**

ما دېته اړ کړې چې لیکنې مې توپیر و لري او هم به مې مینه وال ډېر شي.

**پاکه ربه!**

زموږ له پاره خپله لاره بې ستونزې کړه، تر څو موږ له تا پرته بل څوک و نه وینو او نه یې پېژنو.

زموږ سره مرسته و کړه تر څو مو په وجود کې د غرور نخښه پاتې نه شي او د اسلام د دین له سپیڅلو بنده ګانو څخه مو و بولې.

- د نظر ټولو خاوندانو او هغه څوک چې دا کتاب لولي په ډېر درنښت هیله کیږي چې، خپلې غوښتنې او وړاندیزونه د دې کتاب د بیا کتنې له پاره، زما سره شریکه کړئ.

Whatsapp: ۰۰۹۳۷۹۹۳۷٦۹۹۸

په درنښت
ډاکټر معمار حشمت الله اتمر

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ښکلا**

**......**

## د يادښتونو له پاره:

۱- ...........................................................................

۲- ...........................................................................

۳- ...........................................................................

۴- ...........................................................................

۵- ...........................................................................

۶- ..........................................................................

۷- ...........................................................................

۸- ...........................................................................

۹- ..........................................................................

۱۰- ........................................................................

(c) ketabton.com: The Digital Library


**داستان**

بادام چې يوه تکړه کروندګر(بزرګر) و، د ننګرهار ولايت په يوې وروسته پاتې ولسوالی کې يې ژوند کاوه.

هغه خپل شخصي ځای نه درلود.

د يوه خان په کلا کې، په وړيا توګه اوسېده (کښېناسته).

د خان لويه کلاه وه.

په څلورو اړخونو يا کنجونو کې يې اوچت برجونه درلودل.

بيا د هغې لوې کلا په منځ کي د خان د اوسېدو کلا وه.

شاوخوا کې يې د ګاونډيانو، کروندګرو او کسبه کارانو لکه:

نايې (ناحي، دلاک، سلمان)، مصلي (مثلي)، ټټار، چوکې کروندګر، لرګي ماتونکی، ترکاڼ، ختګر، مزدوران او داسې نورو کورونه وو.

خان د کلا دېوالونه يې دومره اوچت نه وه.

په دوې اړخونو کې يې کوټې درلودې.

يوه اړخ کوټې يې د ژمي او بل اړخ کوټې يې د اوړي له پاره وې.

شمال اړخ کوټې يې دوې پوړيزې او بل اړخ يې يوه پوړيزې وې.

خان د کلا منځ نه، يوه وياله (بياله، لښتی) هم تېر شوی وه.

شاوخوا د ويالې (بيالې) څه د نارنجانو ونې او د ګلاب ګلانو بوټي هم وو.

د خان کلا غولی هم لوی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ښکلا**

**......**

یوه اړخ ته یې ښکلې خپره او ترې لاندې یې اوچته برنډه هم وه.

د خان کورنۍ به په اوړي کې تر خپرې لاندې کښېناستل، کوم چې پر سر یې غټو انګورو لښتې زغلولې وې.

په ویالې کې به د خان ښځې او لورګانو، پیالې او دېګي مينځل.

د ویالې نه به یې د څښاک اوبه هم اخیستې.

د کالیو او ځان مینځلو د پاره یې جلا کوټه درلوده.

خان د ویالې نه به نورو ګاونډیانو ښځوهم، کار اخیسته.

د اوبو له پاره هیڅا ته کلا نه د باندې د وتو اړتیا نه وه.

خان بادام ته هم یوه کوټه او یوه دالان ورکړی و.

د دالان مخې ته یې کوشنۍ برنډه (صوفه) هم وه.

د برنډې نه بام ته لنډې زینې هم شتون درلود.

د برنډې پر سر خپره او د خپرې پر سر تاک هم وه.

تاک به په پسرلي کې ښکلي انګور نیول.

انګور یې غټ یا کټه انګور وو.

په دوبي کې هغوی ټول به د بام په سر بیده کېدل.

بادام د خان، یوه ټوټه ځمکه کره.

کله نا کله به یې د خان د کور لرګي هم ماتول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ښکلا**

......

هغه دوې لورګانې درلودې چې د يوې نوم يې لښته او د بلې نوم يې پاڼه وه.

هغه ډېر خواريکښ کروندګر و.

هغه به په يواځې ځان، ځمکې قولبه کوې او کښت به يې په کې کاره.

ښځې به يې لږ، لږ مرسته ور سره کوه.

هغې به د ځمکو په خپشاوې او پنډ وړلوکې د هغه سره مرسته کوه.

د نيالونو په وخت کې به يې د هغه سره سم نيال کاوه.

لورګانو به يې هغه ته چاى او ډوډۍ کروندو ته وړه.

لورګانو به يې غواګانې څرولو ته هم وړې.

هغوى ته به يې په پولو کې واښه کول او کورته به يې وړل.

سم به يې، د الکانو کارونه کول.

پلار يې سوچ کاوه او د خداى نه به يې غوښتل چې هغه ته زوى په برخه کړي.

هغه به ور سره د کروندو په کارونو کې مرسته وکړي.

ځکه لورګاني يې ورځ تر بلې لوېدې، وتل، ننوتل او په پولو ګرځېدل يې د بادام نه خوښېدل.

هغه نه غوښتل چې لورګانې يې د هغه سره په کروندو کې، مرسته وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


هغه به تل خپلو لورګانو ته ویل:

کوم وخت چې د کور نه د باندې وځئ ، نو باید لوی ټیکرې (پوړنې) پر سر کړئ.

هغوی به هم د خپل پلار خبرې منې او د باندې به وتې.

هغوی چورپه، چورپه وې.

یوه یې د اتو کلونو او بله یې د پنځو کلونو وې.

خو ډېرې (زبردست) کاریګرې وې.

درې کاله وروسته، هغه ته خدای زوی ورکړ.

هغه ډېر خوشحاله شو.

پر هغه یې نوم، سپین بادام کېښود.

هغه به راز، راز سوچونه وهل.

د خدای نه به یې غوښتل چې هغه ژر، ژر لوی او د هغه سره په کروندو کې مرسته وکړي.

مګر، هغه زړه د سوري په ناروغۍ اخته و.

هرڅه دوایي یې و کړه .

خو!

روغ نه شو او وروسته له یوه کاله مړ شو.

بادام ډېر خپه شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


څه یې د لاسه، نه راتلل.

هغه صبر کاوه او د خدای نه یې غوښتل چې هغه ته یوه بل او ښکلی زوی ورپه برخه کړي.

کال تېر شو.

یوه بل کال هم ورپسې شو.

ښځه یې امیندواره (امیدواره) شوه.

بادام به خپلو لورګانو ته ویل:

مور مو امیدواره ده.

ښه به وي چې، تاسو د هغې سره، مرسته وکړئ.

هغوی د خپل پلار خبره و منه.

هغوی به هم په کور د ننه د خپلې مور سره او د باندې به یې د خپل پلار سره مرستې کوې (کولې).

وختونه تېرېدل.

د بادام ښځې به اونۍ شمېرې.

ورځ تر بلې به یې خپل کار لورګانو ته سپاره.

هغوی د کور په کارونو کې تکړه نه وې.

مګر هغوی به کار کاوه او خپلې مور نه به یې پوښتنې کوې.

مشرې لور یې اوړه لمدول (لندول) زده کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library


پیا به یې په تناره کې ډوډۍ پورې کوې.

کله نا کله به ډوډۍ ترې سوزېدې.

هغه په لمړیو کې، د تناره څخه ببرېده.

ورو، ورو د تناره سره بلده (عادت) شوه.

میاشت وروسته به یې په خپله اوړه لمدول او هم به یې ډوډۍ په تناره کې پخوې.

بلې لور به یې کتغ کاوه.

مور به یې یوازې د غوا شیدې لوشې، هغه به یې په نغري کې تودوې.

دا کار به یې په ورځ کې، دوې واره کاوه.

یوه وار به یې په سهار کې لوشې، بیا به یې تودوې او د سهار چای په وخت کې به یې د کورنۍ سره په ګده څښې.

په دوېیم وار به یې مازیګر ناوخته لوشې او هغه به یې تودوې.

د شیدو نه به یې پېروی تړلوه.

پېروی به یې هم د سهار چای په وخت کې پر دستر خوان ایښوده او په خوشحالۍ سره به یې خوړه.

کله به یې مستې او کله به یې ترې پنېر هم جوړاوه.

مستې به یې شاربې.

(c) ketabton.com: The Digital Library
**ښکلا**

**......**

د مستو نه به يې ښکلې تروې جوړوې او کوچ به يې ترې ټولول او په يوه لوښي کې به يې اچول.

کله به يې په سهار کې خوړل.

ځيني وختونه به يې کوچ، ويلي کول او د هغه نه به يې غوړي جوړول.

بيا غوړي به يې په کټغ کې اچول.

کله نا کله به يې په غوړيو کې هګۍ هم پخوې.

ځينې نور وختونه به يې په ياد غوړيو کې پراټې هم پخوې او د شين چای سره به يې خوړې.

هغوی چرګان او بتې (بتکې) هم درلودې.

چرګانو او بتو به يې هګۍ اچوې.

هغوی به کله نا کله هګۍ پخوې او د اړتيا په وخت کې به يې هګۍ هم خرڅوې.

د هګيو پيسې به يې ټولوې او په هغه به يې د کور نور ضروري شيان له بازار نه پيرودل (اخيستل).

په پسرلي او مني کې به يې هګۍ ټولوې او هغه به يې تر چرګانو لاندې ايښودې، تر څو بچې و باسي.

چرګانو به بچې وېسته او لوياوه.

چرګان او چورګړي به د باندې ګرزېدل او ورو، ورو به غټېدل (لويدل).

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ښکلا**

**......**

د بتو بچي به د کور نه د باندې وتل، د کور مخې بيالې کې به ګرځېدل او لامبو به يې وهې.

ماښام به بېرته، کور ته تلل او خپلې کوشنۍ کوټې ته به د ننه کېدل.

چرګان، چورګوړي به وختي هم کورته تلل، په ونې کې به ختل او پر ټيټو ځانګو باندې به کښېناستل.

څه وخت نور هم تېر شو.

بادام او د هغه ښځې پرېکړه و کړه تر څو پر راتلونکي ماشوم نوم کېږدي.

هغوی به نومونه غوره کول او بيا به يې نه خوښول.

وروسته يې پرېکړه وکړه چې:

که چېرې الک شو پر هغه به نوم تازه ګل او که جلۍ شوه پر هغه به نوم ښکلا کېږدي.

دا نومونه يې د لورګانو سره هم ګډ کړل.

هغوی هم و منه او ډېر خوشحاله شوو.

لورګانو به يې ورځ تر بلې د کور کارونو په خپله کول.

خپله مور به يې د کور درانه کار ته، نه پرېښوده.

مياشت بله هم تېره شوه.

هغې د ډمې، کومه چې د ماشومانو په زېږون کې مهارت او تجربه درلوده، اړيکه نږدې کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library
**ښکلا**

**......**

له هغې يې و غوښتل تر څو په زېږون کې ور سره مرسته وکړي.

هغې د نورو اولادونو په زېږون کې هم، مرسته کړې وه.

هغې و منه.

د ورځې به يوه ځل د بادام کورته، تله.

د بادام د ښځې سره به يې چای څښه.

هغې ته به يې مشورې ورکوې.

څه وخت نور هم تېر شو.

د هغې د زېږون وخت نږدې شو.

هغې د خپلو نورو ماشومانو کالي لکه:

شولکه، کمانک، لتې، سوزنې، بادبرک او نور شيان پر سېره کړل.

ډمې هم د هغې سره يې مرستې، پيل کړې.

د زېږون شپه يې ورسره تېره کړه.

سهار نږدې شو.

هغې ته خدای يوه ښکلې لور ورکړه.

لور يې دې دنيا ته سترګې وغوړوې.

هغې ښکلې او غټې سترګې درلودې.

نوم يې له ورايه ټاکل شوی و.

ښکلا!

(c) ketabton.com: The Digital Library


اوا(هوا) توده وه.

بادام د بام پر سر شپه تېره کړې او د سهار لمانځه له پاره د باندې وتی و.

په کلا کې د ننه ګلان نه وو.

هغې د تاک کوشنۍ لښته و شکوه او خپل کوشني زوی ته یې غږ کړ.

ژېړ ګله!

وه ژېړ ګله!

هغه و ویل:

څه وایې مورې؟

هغې و ویل:

دلته راشه!

هغه خپلې مور څنګ ته لاړ او ویې ویل:

څه دې ویل؟

هغې ورته د تاک کوشنۍ لښته ورکړه او ویې ویل:

دا لښته بادام ته ورکړه او هغه ته و وایه چې خدای تا ته ښکلې لور درکړه.

هغه و ویل:

سمه ده!

(c) ketabton.com: The Digital Library


لښته يې واخيسته او د کلا نه د باندې شو.

جومات خوا ته لاړ.

بادام د جومات نه د باندې تر ونې لاندې ناست و.

ژېړ ګل بادام ته نږدې شو.

هغه ته يې سلام ورکړ.

بادام د هغه سلام ته، وعليکم و ويل.

بيا ژړ ګل هغه ته لښته ورکړه او هغه ته يې و ويل:

زيری مې در باندې.

خدای تا ته يوه ښکلې لور درکړه.

بادام مننه وکړه.

بيا يې په جبونو کې لاس و واهه.

يوه شانزده پولې يې و موند او هغه ته يې ورکړ.

ژېړ ګل ډېر خوشحاله او په منډو ببېرته کلا ته لاړ.

ګړۍ وروسته، بادام هم د چاى ښځلو د پاره کور ته لاړ.

هغه تر ځېرې لاندې پر کټ کښېناست.

ډمه له کوټې و وته او هغه ته يې مبارکي و ويله.

بادام د هغې نه مننه وکړه.

بيا يې بادام ته و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library


یوه چرګ ونیسه.

بادام او د هغه لورګانو یوه چرګ و نیو.

بیا ډمې و ویل:

هغه حلال کړه چې زه یې له پوسته او ستا ښځې ته یې یخني کړم.

بادام هم د لارښوونې سره سم، چرګ حلال او ډمې ته یې وسپاره.

هغې د چرګ په پاکولو پیل کړ.

په دې وخت کې چای دم شو.

لور یې خپل پلار ته، چای راوړ.

هغه چای په خوند سره وڅښه.

بیا یې بېلچه واخیسته، پر اوږې یې کېښېښوده او د کلا نه د باندې شو.

هغه کروندو خوا ته روان شو.

بادام ډېر خوشحاله، نه ښکارېده.

هر چا به هغه ته مبارکي ویله.

بادام به هم مننه کوه.

ډمې تر درې ورځو پورې د هغې  نه پالنه وکړه.

بیا یې ورو، ورو کارونه د هغې لورګانو ته وسپارل.

خپله به یې د ورځې یوه یا دوې واره ورتله او کارونه به یې سمبالول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ښکلا**

**......**

د هغوي وضعيت به يې ښاره او لارښونې به يې کوې.

د بادام ښځه هم تکړه وه.

هغې د ماشومانو لويولو تجربه هم درلوده.

اونۍ وروسته يې پر کار پيل کړ.

هغې به چابکه، چابکه کارونه کول.

بيا يې بادام ته و ويل:

د ښېرې د پاسه ګواره (ګهواره) ده.

هغه راکښته او په بيالې کې يې ښه پرېمينځه.

بيا يې بام د پاسه لمر ته کېږده.

تر څو وچه شي.

بادام ومنه.

ښېرې ته وخوت.

ګواره يې را کښته کړه.

بيا يې کلا مخې بيالې ته يوړه.

الته يې ښه پاکه پرېمينځه.

وروسته يې کلا ته د ننه کړه.

پر بام يې لمر ته کښېښوده، تر څو وچه شي.

خپله يې ببرته د باندې و وت.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ماښام شو.

د ماښام لمونځ يې په جمع ادا کړ.

بيا کلا ته د ننه او خپل کور ته لاړ.

الته تر څپرې لاندې کښيناست.

اوا (هوا) روښانه او سپوږمۍ د څوارلسم وه.

شاوخوا رڼا وه.

الکين روښانه کېدو ته اړتيا نه وه.

هغه الته د شپې ډوډۍ وخوړه، بيا بام ته وخوت او بيده شو.

ماشومان يې کوټې ته د ننه، خپلې مور خوا ته بيده شوو.

څو ورځې تېرې شوې.

هغه لږه لويه شوه.

بيا د خان ښځه مبارکۍ له پاره، هغوی کور ته لاړه.

د بادام ښځې و غوښتل چې ولاړه شي.

د خان ښځې و ويل:

پرېوزه!

کومه ستونزه نه شته.

بيا يې هغې ته مبارکي و ويله.

د بادام ښځې هم د هغې نه مننه وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


بیا هغې وپوښتل:

نوم مو پرې څه ایښی دی؟

د بادام ښځې و ویل:

نوم مو پرې د مخه ښکلا ایښی و.

بیا یې هغه واخیسته او په غېږ کې یې واچوه.

هغه ویښه وه.

سترګې یې و غوړوې.

بیا د خان ښځې و ویل:

په رښتیا چې هم ښکلا ده.

خدای دې نېک صالحه لویه کړي.

بیا یې یوه جوړه نوی انجنو کالي، د بادام ښځې ته ډالۍ کړل.

د بادام ښځې د هغې نه مننه وکړه او ویې ویل:

خدای دې تاسوته خیر درکړي.

تاسو ښه اوزړه سوانده خلک یاست.

زمونږ سره مو ډېرې نېکۍ او مرستې کړي دي.

په دې وخت کې د بادام لورګانو په چټکۍ سره چای دم او هغې مخې ته یې کېښېښود.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ښکلا**

**......**

بیا یې توره ګوړه (ګړه) ماته او په غاب (بشقاب) کې یې کښېښوده او د خان د ښځې مخې ته یې وړاندې کړه.

هغې یوه پیاله چای وڅښه.

بیا یې د بادام ښځې نه خدای پاماني واخیسته او بېرته، کور ته لاړه.

ښکلا په ریښتیا هم ښکلې وه.

هغه ورو، ورو لوېده او ښکلا یې نوره هم ډېرېده.

څو میاشتې تېرې شوې.

هغه په خپوړو راغله.

بیا به په پښو څښېده.

هو او نه یې زده کړل.

بیا په ودرېدو شوه.

لږ، لږ به ګرځېده.

بادام ورته په ترکاڼ پایروانک جوړ کړ.

بادام پایروانک، کورته وېوړ.

ښکلا ته یې ورکړ.

هغه ډېره خوشحاله شوه.

ټولو کوښښ کاوه چې هغې ته یې ورزده کړي.

هغه هم لږ، لږ د پایروانک په مرستې اخوا دېخوا ګرځېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ښکلا**

**......**

کله ناکله به پر ځمکې غورځېده.

بیا به خویندو او یا مور به یې هغه له ځمکې راپورته کوه او کالي به یې ورته څنډل.

کله به ژوبله او په ژړا کېده.

خو خویندو به یې هغه پورته کوه او ژوبل ځای به یې ورته په واسیلین غوړاوه.

کله خویندو به یې هغه په څټ (شا) کوه او د باندې به یې وړه.

خویندو به یې چنترو لوبې کوې او هغه به یې نږدې کېناوه.

کله به هغه هم د ځای نه پاڅېده او ورو، ورو به یې ګامونه ایښودل.

بیا به ونې خوا ته، تله او د ونې ډډ نه به یې نیوه او التة به ودرېده.

وختونه تېرېدل او هغه لوېده.

هغه په خبرو راغله.

ښکلې خبرې به یې کوې.

لږ نوره هم لویه شوه.

د باندې به وته.

هرچا به هغې ته کتې.

انجونو به په غېږ کې نیوه او هغه به یې ښکلوه (مچو کوه).

هغې به مشرانو ته سلام اچاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


مشرانو به هم هغه خوښوه.

کله به يې هغه ستنوه.

د هغې سره به يې خبرې کوې.

هغې به خورې، خورې خبرې کوې.

د هغې ښکلې شنې سترګې وې.

جګه او لنډه پوزه (پزه) کمان وروځې او کوشنۍ خوله، ګرد او سپين مخ ښکلا يې په ريښتيا ښکلې کړې وه.

د بادام د اوسېدو ځای (کلی) د بازار نه لرې و.

الته ښوونځي هم نه وه.

د انجنو ښوونځي خو ډېر لرې او د ولسوالۍ بازار ته نږدې و.

د هغه کلي ته نږدې، کوم کلينک هم نه و.

سيمه ډېره وروسته پاتې وه.

کلي ته نږدې، يوه خټين جومات و.

د کلي خلکو به الته، لمانځونه کول.

کوشنيانو به الته د ملاصيب نه ديني زده کړې کوې.

سهار نه به الکانو او د ماسپښين لمانځه نه وروسته به کوشنيو انجونو زده کړې کوې.

بادام هم، خپلې ښځې ته و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ښکلا**

**......**

ښکلا هم سبق زده کولو د پاره جومات ته ولېږه.

مور يې هغې ته يوه کوشنی پوړنی (تيکری) جوړ کړ.

هغي به په خوشحالۍ سره په سر کاوه.

ښکلا د کلي نورو کوشنيو انجونو سره، په زده کړو پيل کړ.

هغې ته مشرې خورې خپله ا ب څ سيپاره ورکړه.

هغې د ملا نه زده کړې پيل کړې.

هره ورځ به د خپلې کشرې خور سره جومات ته، تله.

الته به يې سبقونه ويل او بېرته به خپلې خور سره يوه ځای کور ته ستنېده.

هغې به په شوک (شوق) سره ديني زده کړې کوې.

بيا به يې په کور کې هم ګردانوې.

هره ورځ به يې نوې سبق زده کاوه.

څه وخت تېر شو.

هغې سيپاره ختمه کړه.

بيا پلار ورته د الم سيپاره راوړه.

هغې د قرآنکريم په لمړۍ سيپارې زده کولو، پيل کړ.

هغه به لکه بلبلې لوست ويل.

ټول ورته غاښ په ګوتې وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


خدای تعالی هغې ته، ښه ذهن هم ورکړي و.

هغې به هر څه ډېر ژر زده کول.

هغې ښکلی غږ هم درلود.

هغه ورځ تر بلې لوېده.

د کلي الکانو به هغې ته کتل.

هغې به خپل مخ په پوړني (تکري) پټاوه.

بادام به خپل ښځې ته ویل:

په ښکلا به ډېر پام کوې.

هغه به یوازی چېرته نه لیږي.

هغه کروندو(پټو) ته هم ډېره مه لیږه.

هغه ډېره ښکلې او خدای مه کړه نظره نه شي.

کله نا کله، هغې ته سپېلني هم لوږی (دود) کوه.

وختونه تېرېدل.

ښکلا هم لوېده.

هغه د ښپږو بیا اتو او وروسته څوارلسو کلو شوه.

ښکلا د ښکلا ډنډورې شوې.

هر چا به ښکلا یادوه.

هغې رایباران وموندل.

(c) ketabton.com: The Digital Library
**ښکلا**

**......**

د لرې ځايونونه به رايباران بادام کورته راتلل.

د بادام ښځې به ويل:

ژرنده کې د پلار ده – هم په وار ده.

تر ښکلا مې دوې نورې انجوني پېغلي دي.

غواړم لمړي هغوي په خپل بخت پسې ولېږم.

بيا د ښکلا خبرې وکړو.

هغه تر اوسه کوشنۍ ده.

نوې ځوارلس کلنه شوې ده.

بايد صبر وکړو.

تر څو ښه لويه او د کور کارونه زده کړي.

هغه اوس کوټه او دالان جاړو (جارو) کوي.

په پخلي خو، هېڅ نه پوهيږي.

مونږ به هغې ته لږ، لږ کارونه وښيوو.

په يوې ورځ، هيڅ هم نه کيږي.

د هر څيز پخيېدو ته، وخت په کار دی.

زه او بادام غواړو په وار سره خپلې لورګانې ګوژده او وروسته واده کړو.

رايباران به تلل او راتلل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ښکلا**

**......**

هغې څه رایباران په کلي کې د ننه هم وموندل.

د خان کوشني زوی هم پر هغې سترګې ګنډلې وې.

هغه به د بادام کور د مخې نه څو وار تېرېده تر څو ښکلا و ویني.

کله ماسپښین به د جومات تر دېوال کښېناسته او د هغې لیدنه به یې کوه.

ښکلا ورو، ورو لوېده او په ډېرو خلکو، ګرانېده.

د رایبارانو بازار هم تود وو.

چا به ډېرې پیسې، چا به ښې ځمکې وړاندې کوې.

بادام او د هغه ښځه به ورځ تر بلې تنګېدل.

کله به هم د کاره وتل.

په اونۍ کې به دوې، درې رایباره راتلل.

د بادام کورنۍ به راز، راز بهانې او پلمې کوې.

هغوی نه غوښتل چې لمړی ښکلا کوژده کړي.

هغوی د دوو نورو لورګارنو په سوچ کې وو.

څه موده تېره شوه.

د هغوی مشره لور نومانده شوه.

د بادام کور ته مېلمانه ډېر شوو.

د هغوی خرچه (مصرف) هم ډېره شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ښکلا**

**......**

بادام به په کروندو کې تر نا وخته کار کاوه.

ښځې او لورګانو به یې هم، ورسره مرستې کوې.

څه وخت نور هم تېر شو.

د خان زوی هم پر ښکلا مین شو.

خان د زوی نوم ښایسته و.

هغه په سن کې د شپاړسو کالو و.

هغه په ښوونځي کې هم و.

سهار وختي به له خوبه پاڅېده.

سهار لمونځ به یې په جمع کاوه.

څو ځل (پلا) به د بادام د کوټې مخې نه تېرېده، تر څو ښکلا و ویني.

کله نا کله به ښکلا، د ښایسته مخې ته، راتله.

ښایسته به هغې ته سلام اچاوه.

ښکلا به د هغه سلام ته، وعلیکم ویل.

ښکلا نه پوهېده چې ښایسته پر هغې مین دی.

وختونه تېرېدل.

هغوی دواړه لوېدل.

څوک د ښایسته پر مینتوب نه پوهېدل.

هغه به تل چرت (سوچ) کې و.

(c) ketabton.com: The Digital Library


رنګ به يې ورځ تر بلې ژېړېده.

خوراک يې هم، ورځ تر بلې لږېده.

يوه ورځ د خان ښځې، خان ته و ويل:

ښايسته ډېر چرتی دی.

رنګ يې ورځ تر بلې ژېړېږي.

سوچ کوم چې هغه ناروغه دی.

ښه به وي چې هغه کوم ډاکټر ته يوسې.

خان و منه او هغې ته يې و ويل:

سمه ده!

اوس هغه په ښوونځي کې دی.

کوم وخت چې له ښوونځی نه راغی، بيا به يې بوزم (يوسم).

ښځې يې مننه وکړه.

خان هم په کور کې پاتې شو.

د باندې دېرې ته، لاړ نه شو.

ګړۍ تېره شوه.

ښايسته له ښوونځي نه راغی.

غرمه وه.

د خان ښځې د غرمې ډوډۍ تياره کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


بیا یې خان ته و ویل:

ډوډۍ چېرته وباسم؟

خان و ویل:

نن اوا (هوا) ډېره ښکلې ده.

د نن غرمې ډوډۍ به تر څپرې لاندې وخورو.

هغې و ویل:

سمه ده!

بیا یې خپلې لور ته و ویل:

د څپرې لاندې ټغر اوار کړه (وغوړوه، هموار کړه).

بیا یې ښایسته ته و ویل:

ته هم د لاس مینځلو اوبه راوړه.

د خان مشرۍ لور، لوی ټغر اوار کړ.

بیا د خان ښځې څو توشکې او بالښتونه راوړل.

په ګډه سره یې اوار کړل.

خان پر توشکې کښېناست.

ښایسته هم د ابو کوزه او چلمچي راوړ.

خان ته یې نږدې کړ.

د خان لاسونه یې و مینځل.

(c) ketabton.com: The Digital Library


بیا یې کوزه او چلمچی د ټغر خوا ته کښېښودل.

مور یې دسترخوان اوار کړ.

بیا یې ډوډۍ پرې کېښوده.

وروسته یې کتغ راوړ.

ټولو پر خوراک پیل کړ.

ټولو په ګډه سره د غرمې ډوډۍ وخوړه.

بیا د خان ښځې، شین چای راوړ.

هغه یې په پیالو کې واچاوه.

خان خپلې ښځې ته و ویل:

ګوړه شته؟

هغې و ویل:

هو!

شته!

پتاسې هم لرو.

بیا خان و ویل:

په یوه غاب (بشقاب) کې پتاسې او په بل کې ګوړه راوړه.

ښځې یې و ویل:

ژر به یې راوړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ښځه يې کوټې ته، د ننه شوه.

په يوه غاب (بشقاب) کې يې پټاسې، په بل کې يې ګوړه واچوه او هغه يې برنډې ته راوړه.

غابونه يې سره و ويشل.

چاى په خوند سره وڅښل شو.

بيا د خان ښځې پيالې ټولې کړې.

ښايسته له ځايه پاڅېد.

هغه غوښتل د باندې لاړ شي.

پلار يې و ويل:

چېرې ځې؟

هغه و ويل:

غواړم د باندې لاړ او ملګرو سره لوبې وکړم.

پلار يې و ويل:

کېداى شي له تا سره خبرې وکړم؟

هغه و ويل:

هو!

ولې نه!

پلار يې و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library


......

دلته مخې ته مې کښېنه!

ښایسته د خپل پلار مخې ته کښېناست.

پلار یې و ویل:

ولې داسې غلی یې؟

رنګ دې هم ژېړ دی.

داسې ښکاري چې ناروغه شوی یې.

هغه و ویل:

نه!

داسې ښکاري.

زه ناروغه، نه یم.

بیا پلار یې زیاته کړه.

ښه به وي چې کوم داکتر ته لاړ شوو.

هغه و ویل:

ستا خوښه!

مګر زه ناروغه نه یم.

پلار یې و ویل:

ورځې هسې لویې دي.

ښه به وي چې د ولسوالۍ بازار ته، لاړ شوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


هم به د داکټر سره و وینو او هم به د کور سودا واخلو.

موردې پرون و ویل:

کور کې سودا نه شته.

چای او بوره هم مخ په خلاسېدو ده.

ښایسته و ویل:

سمه ده!

بیا خان خپلې ښځې ته و ویل:

لونګۍ او نوې تورې څپلۍ مې راوړه.

هو!

شړۍ دې هم له هېره (یاده) ونه وځي.

هغې و ویل:

سمه ده!

هغه کوټې ته د ننه شوه او د خان شیان یې راوړل.

خان خولۍ په سر او لنګۍ یې پرې وتړه.

بیا یې واسکټ واغوست او څپلۍ یې په پښو کړې.

شړۍ یې پر اوږې واچوه.

هغه مخکې او ښایسته ورپسې شو.

د خپل کورنه و وتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library


بیا یې خپل ناظر ته غږ کړ.

ناظره!

ناظر ښځه د کوټې نه د باندې شوه او خان ته یې سلام ورکړ.

خان د هغې سلام ته وعلیکم و ویل.

بیا خان وپوښتل:

ناظر چېرې دی؟

هغې و ویل:

اوس دستې له کلا نه و وت او دېرې ته لاړ.

خان او ښایسته هم د کلا نه د باندې او دېرې خوا ته روان شوو.

ناظر خان ولید چې دېرې ته روان دی.

هغه له ځایه پاڅېد او د خان خوا یې ګامونه، ګړندي کړل.

خان د ونې ډډ خوا ته ودرېد.

ناظر ځان، خان ته ورساوه او هغه ته یې سلام ورکړ.

خان هم د هغه سلام ته وعلیکم و ویل.

بیا یې و ویل:

څه امر او خدمت خان صیب؟

خان و ویل:

راځه چې د ولسوالۍ بازار ته لاړ شوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


البته به ښایسته داکتر ته وښیوو.

بیا به لږ سودا هم واخلو.

هغه و ویل:

سمه ده!

زمونږ مالګه هم خلاصه شوې ده.

زه به کور ته لږ مالګه هم، واخلم.

خان و ویل:

سمه ده!

درځه چې ځوو.

بیا خان مخکې، ښایسته او ناظر ورپسې شوو.

په لاره کې یې خبرې هم کوې.

بیا ناظر خان ته و ویل:

پر ښایسته څه شوي دي؟

د هغه رنګ ژېړ دی.

خان و ویل:

هو!

په همدې خاطر، غواړو داکتر ته لاړ شو.

ښایسته اشتها هم نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library


بیا ناظر په ټوکو کې و ویل:

خان صیب!

ښایسته خو به مین شوی نه وي؟

خان و ویل:

داسې څوک شته چې ښایسته پرې مین شي؟

ناظر و ویل:

کېدای شي.

نن اوسبا، شاوخوا انجونې ښکلې دي.

ناظر غوښتل چې د بادام د لور نوم واخلي، خو ژر یې خوله ونیوه، ترڅو ښایسته او خان خپه نه شي.

هغوی روان وو او کیسې یې سره هم کوې.

په خبرو، خبرو ولسوالۍ بازار ته ورسېدل.

لمړی د داکټر معاینې خونې ته ننوتل.

داکټر ته یې سلام ورکړ.

داکټر د هغوی سلام ته وعلیکم و ویل.

بیا یې هغوی ته و ویل:

پر کټ کښېنئ.

هغوی ټول پر کټ کښېناستل.

(c) ketabton.com: The Digital Library


بیا داکټر و ویل:

خیرت خو به وي، خان صیب؟

هغه و ویل:

خیریت دی.

خو!

ښایسته لږ ناروغه ښکاري.

هغه و ویل:

سوچ مه کوه.

اوس به یې معاینه کړم.

بیا یې ښایسته ته و ویل:

دلته د ننه راشه!

ښایسته د ننه شو.

بیا داکټر هغه ته و ویل:

پر دې کټ پرېوزه.

هغه پر کټ پرېوت.

بیا داکټر د معاینې وسایل واخیستل او پر معاینې یې پیل کړ.

د هغه نه یې راز، راز پوښتنې و کړې.

هغه هېڅ ناروغي نه درلوده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


بیا یې ترې و پوښتل:
مین شوی خو به نه وې؟
هغه سر ټیټ واچوه او څه یې ونه ویل.
بیا داکټر خان ته نږدې شو.
خان وپوښتل:
څه ناروغې لري؟
داکټر و ویل:
هغه شکر روغ او جوړ دی.
بیا یې خان د کټ نه کناره کړ.
په ټوکو، ټوکو یې هغه ته و ویل:
داسې ښکارې چې هغه مین شوی وي.
تاسو ترې کور کې پلټنې وکړئ.
درک به یې ولګیږي.
که د زړه وړ کس وي کولای شئ هغه ته کوژده بیا واده هم وکړئ.
خان په خندا شو.
د داکټر نه یې مننه وکړه.
بیا بازار ته ننوتل او د کور شیانو په اخیستنې یې پیل کړ.
سودا یې واخیسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library


بیا ناظر د خپل کور له پاره مالګه هم واخیسته.

سودا یې د یوه هټۍ (دکان) ته غونډه کړه.

بیا ناظر هغه یې په خپل څادر کې کښېښوده او غوټه یې کړه.

خان ته یې و ویل:

څه خو به پاتې نه وي؟

خان و ویل:

نه!

سودا همدومره وه.

خان زیاته کړه.

که څه پاتې وي کوم بل وخت به یې وپېرو(واخلو).

ناظر و ویل:

سمه ده!

اوس کولای شو کور خوا ته لاړ شو؟

خان و ویل:

هو!

ناظر د سودا غوټه واخیسته او څټ (شا) ته یې واچوه او ټول کور خوا ته روان شوو.

هغوی ورو، ورو تلل او خبرې یې کوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ګړۍ وروسته هغوی کلي ته ورسېدل.

ناظر پنډ د خان سره کورته، د ننه کړ.

پنډ يې د څپرې لاندې کښېښود.

خپله مالګه يې ترې واخیسته.

بیا يې د خان نه رخصت واخیست او خپل کور ته روان شو.

ښایسته هم د باندې و وت.

په دې وخت کې د خان ښځه راغله او خان ته يې سترې مه شې و وایه.

خان هم هغې ته و ویل:

خیر یوسې.

بیا يې د خان نه د ښایسته په اړه (باره کې) پوشتنه وکړه.

خان و ویل:

د داکټر د معاینې نه معلومه شوه چې هغه روغ رمټ دی.

کومه ناروغي نه لري.

ښځې يې وپوښتل:

چې داسې ده، بیا ولې رنګ يې ژېړ او اشتها نه لري.

خان و ویل:

داکټر و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library


کېدای شي هغه مين شوی وي.

تاسو کوښښ وکړئ چې د هغه د زړه کس و مومئ او هغه ته کوژده وکړئ، نور به په خپله سم شي.

هغه اوس پوره ځوان او د کوژدې وړدی.

ښوونځی يې هم سر. کال پای ته رسېږي.

بيا خان ډېره (زياته) کړه.

تاسو ترې پوښتنه وکړئ، چې د هغه د زړه انجلۍ چېرې او د چا لور ده؟

ښځې يې و ويل:

سمه ده!

زه به د هغه ورو او مشرې خور ته، دنده وسپارم تر ځو هغه وڅاري.

خان و ويل:

سمه ده!

تاسو کوښښ وکړئ.

خان خپله لنګۍ او شړۍ پر توشکې کښېښوده او څپلۍ يې هم و باسې.

بيا يې سپينه خولۍ پر سره او بوټان يې په پښوو کړل.

ښځې ته يې و ويل:

سودا ځای پرځای کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


زه د باندي دېرې ته ځم.

د ماښام اودس او لمونځ نه وروسته کور ته راځم.

ښځې يې و ويل:

سمه ده!

بيا هغې سودا واخيسته او کوټې ته يې د ننه کړه.

وروسته پخلنځي ته لاړه او د شپې کتغ يې باندې کړ.

خان هم دېرې ته لاړ.

ماښام شو.

ملا د جومات د بام پر زينو وخوت.

الته يې د ماښام اذان وکړ.

خلک راټول شوو.

جمع تياره شوه.

ټولو په جمع لمونځ ادا کړ.

بيا سره خلک يوه بل پسې له جومات څخه و وتل او خپلو کورونو خوا روان شوو.

خان هم د ملا امام سره خداى پا ماني وکړه او کورته روان شوو.

ناظر او ښايسته هم ورپسې شوو.

هغوى لمړى کلا بيا هر څوک خپلو خونو يا کوټو ته لاړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library


خان او ښایسته خپلې کلا ته د ننه شوو.

د کلا ور(دروازه) یې وتړه.

د کورنۍ ټول غړي یې په کور کې وو.

اوا (هوا) تیاره شوه.

خان او ښایسته کوټې ته د ننه شوو.

د ښایسته مشر ورور له ورایه الته ناست او بالښت ته یې ډډه اچولې او راډیو ته یې غوږ نیولی و.

هغه له ځایه پاڅېد او خپل پلار ته یې سلام واچوه.

پلار یې هم د هغه سلام ته وعلیکم و ویل.

بیا هغوی هم پر توشکې کښېناستل.

په دې وخت کې د خان ښځه راغله او بل الکین یې هم کوټې ته راوړ.

بیا یې و ویل:

د شپې ډوډۍ تیاره ده.

خان و ویل:

بس!

رایې وړه، چې ویې خورو، نن څه ستومانه یم.

په پښو مو مزل کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ښځې يې و ويل:

سمه ده!

بيا يې خپلې مشرې لور ته و ويل:

ته دسترخوان اوار کړه، زه به کتغ و باسم.

بيا يې ښايسته ته و ويل:

ته د لاس اوبه راوړه او ټول لاسونه پرېمنځئ.

هغه پخلنځي ته لاړه.

دسترخوان اوار او لاسونه پرېمنځل شوو.

د خان ښځې کتغ راول او پر دسترخوان يې کښېښود.

بيا يې د تناره کوټې نه د ډوډۍ ټکرۍ راوړه او ډوډۍ يې پر دسترخوان کښېښوده.

ټولو د بسم الله په ويلو سره د ډوډۍ پر خوړو پيل کړ.

ډوډۍ وخوړل شوه.

بيا د خان ښځه تناره کوټې ته لاړه او الته يې چاى دم کړ.

نورو دسترخوان او لوښي ټول او د کوټې يوې خوا يې کېښودل.

د خان ښځې چاى راوړ.

بيا يې دسترخوان او کتغ لوښې تناره کوټې ته يوړل او الته يې پرېمنځل.

(c) ketabton.com: The Digital Library


......

مشرۍ لور يې په پيالو کې چای و وېشه.

ماسخوتن، بيا شپه شوه.

ټول په خپلو ځايونو کې بيده شوو.

سهار شو.

ټول له خوبه وختي پاڅېدل.

نارينه د باندې اوداسه ته لاړل.

ښځينه ويالې ته د اوداسه له پاره لاړل.

اودسونه او لمنځونه وشوو.

څنډ وروسته لمر وخوت.

نارينه هم کورته لاړل.

د خان ښځې چای دم کړی او برنډې ته يې راوړل.

الته دسترخوان اوار، چايجوش او پيالې راوړل شوې.

بيا چای پر پيالو و وېشل شو.

چای و څښل شو.

بيا د خان ښځې خپلې مشرۍ لور او مشر زوی ته دنده و سپاره تر څو د ښايسته د زړه انجلۍ و مومي.

هغوی ومنه او پر ښار يې پيل کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ښکلا**

**......**

د کلا د ننه څارنه د خان د مشرې لور پر غاړې او د باندې يې د خان مشر زوی پر غاړه شوه.

ښايسته چې به هرې خوا ته، ته.

هغه به څارل کېده.

د خان مشره لور ډېره چالاکه وه.

هغه د بام دېوال تر شا پټه شوه.

ښايسته د کوره و وت او ورو، ورو د بادام کور خوا ته روان شو.

بيا يې څټ (شا) ته وکتل.

څوک نه ښکارېدل.

د دېوال څټ (شا) ته ودرېد.

ښکلا را ووته او پر اوږې يې منګی و.

هغې غوښتل د خان کور انګړ ته لاړه او منګی ډک کړي.

بيا ښايسته هغې ته سلام ورکړ.

هغې هم د ښايسته سلام ته وعليکم و ويل.

هغه روانه او ښايسته الته ولاړ او د ښکلا ننداره يې کوه.

خور يې پوی شوه چې د هغه د زړه جلی، ښکلا ده.

هغه له بامه کوزه شوه او د خپلو ستروګو ليدل حال يې، خپلې مور ته بيان کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


مور يې ښکلا ته نږدې شوه.

هغې د خان ښځې ته سلام ورکړ.

د خان ښځې هم د هغې سلام ته وعليکم و ويل.

بيا يې هغې ته و ويل.

ډير وخت مې نه وې ليدلې.

ښه!

په رېښتيا چې ته ښکلې يې.

هغه موسکی او د انګړ نه د باندې شوه.

د ښايسته مور په سوچ کې شوه او حيرانه وه چې خان څه رنګه پوی کړي.

راز، راز سوچونه يې و وهل.

بيا يې له ځانه سره و ويل:

زه به هغه ته رېښتا و وايم.

کېدای شي هغه يې ومني.

ښکلا ښکلې جلۍ ده او ډېر رايباران هم لري.

ورځ تېره شوه، ماسپښين بيا ماښام شو.

خان کورته راغی.

هغه د څپرې لاندې ودرېد.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ښځه یې هم راغله او هغه ته یې سترې مه شې و ویل.

هغه د خپلې ښځې نه مننه وکړه.

بیا یې د دندې په هکله وپوښتل.

هغې و ویل:

د ښایسته د زړه جلۍ په همدې کلي کې ده.

خان په غصه او ویې ویل:

هغه حتماً ښکلا او د بادام لور ده.

ډېر خلک د هغې رایبارۍ ته راځي.

د خان ښځې و ویل:

ښه به وي چې مونږ د هغې نه رایباري وکړو.

خان و ویل:

ځان و پېژنه!

ته د خان ښځه یې.

د هغې پلار زمونږ کروندګر(دهقان) دی.

د کروندګر لور څرنګه خپل زوی ته واده کړم.

خلک به څه و وایي.

ټول به پر مونږ وخاندي.

دا رایباري نه شي کېدای.

(c) ketabton.com: The Digital Library


خپل څادر یې وځانده او پر توشکې یې وغورځاوه.

بیا کښېناست.

بالښت یې کش او ډډه یې پرې واچوه.

ښځې ته یې و ویل:

یوه پیاله یخې اوبه راکړه.

هغې پیاله واخیسته او منګي ته نږدې شوه.

پیالې کې یې اوبه واچوې او خان ته یې ورکړې.

خان پیاله واخیسته او اوبه یې وڅښې.

په دې وخت کې ښایسته انګړ ته د ننه شو.

پلار یې غږ کړ.

دلته راشه!

ښایسته پلار ته نږدې شو او سلام یې ورکړ.

پلار یې د هغه سلام ته وعلیکم و ویل.

ښایسته و ویل:

څه دې ویل پلاره؟

هغه په غصه و ویل:

خلک کات (قات) وو چې ته د کروندګر(بزرګر، دهقان) په لور مین کېدې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


هغه و ویل:

څه توپیر لري، کروند ګر هم زمونږ په شان انسانان دي.

پلار یې نور هم په غصه شو او ویې ویل:

ته د کلي خان زوی یې، نه باید داسې خبرې وکړې.

مونږ عزت لرو.

ټول خلک زمونږ احترام کوي.

زه به خلکو ته څه و وایم؟

بې شرمه!

ورک شه!

زه یې نه منم.

ښایسته ډېر خواشینی شو او کوټې ته لاړ.

مور یې کوټې کې وه او د خان خبرو ته یې غوږ نیولی و.

هغه هم ډېره خواشینې شوه.

بیا ښایسته خپلې مور ته و ویل:

مورې!

ما کومه ګناه کړې ده؟

هغې و ویل:

نه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ښکلا**

**......**

مونږ پوهېږو چې هغه ښکلې او ښه انجلۍ ده.

هغه ډېر رايباران لري.

خو هغه زمونږ د کروندګر لور ده.

مونږ خانان يوو.

زمونږ سره د کروند ګر دوستي ښه نه ښکاري.

د هغې پلار به هم و نه غواړي چې خپله لور مونږ ته راکړي.

بيا يې د ښايسته نه پوښتنه وکړه:

هغه هم د ستا سره مينه لري؟

ښايسته و ويل:

نه پوهېږم.

بيا مور يې زياته کړه.

ښه به دا وي چې پر دې موضع خاوره واچوې او د دې غوږې ښوروا تېر شي.

تا ته به په خپلو او خپلوانو کې يوه ښه انجلي پيدا کړو.

هم به دې پلار خوشحاله شي او هم به د خلکو خبرو نه خلاص شوو.

ښايسته و ويل:

تاسو چې هر څه وايئ و وايئ.

زه د ښکلا نه،نه تېرېږم.

(c) ketabton.com: The Digital Library


......

هغه پر ما ډېره ګرانه ده.

زه غواړم چې د هغې سره واده وکړم.

بیا مور یې و ویل:

داسې چې ته کلک ولاړ یې، زه به د ستا ورور او خویندو سره هم موضوع ګډه (شریکه) کړم.

ټول به ستا پلار ته عذر وکړو.

ګوندې که هغه راضي شي.

ښایسته و ویل:

سمه ده!

شپه تېره او سبا شو.

ښایسته ښوونځي ته لاړ.

پلار یې هم د باندې و وت.

مور یې خپل زوی او لور ګانو ته غږ کړ.

هغوی ټول د برنډې پر سر کښېناستل.

مور یې بحث پیل (شروع) کړل.

د خان او ښایسته خبرې یې د هغوی سره ګډې (شریکه) کړې.

هغوی هم زړه نا زړه وو.

بیا مور یې و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library


زما هم، زړه نه ده.

خو!

ښایسته ډېر کلک ولاړ دی.

ببرېږم چې هغه، ځان وژنه و نه کړي.

بیا به خلکو ته څه و وایو.

مشرې لور یې و ویل:

راځئ چې ټول پلار ته مې عذر وکړو.

کېدای شي هغه راضي شي.

مور یې و ویل:

ښه خبره ده.

هغه ماښام کور ته راځي.

د شپې ډوډۍ خوړو نه وروسته به، د هغه سره خبره ګډه کړو.

مونږ ټول به کوښښ وکړو ترڅو هغه راضي کړو.

مشرې لور یې و ویل:

سمه ده!

غرمه شوه، ماسپښین او بیا مازیګر شو.

ماښام نږدې شو.

ښایسته ستړی ستومانه کور ته راغی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


مور ته یې سلام واچوه، بیا کوټې ته د ننه شو.

پر سر یې ځادر کش او په سوچونو کې ډوب شوو.

د کورنۍ نور غړي یې، د خان په انتظار وو.

ماښام تېر شو.

خان کورته د ننه شو.

ټولو هغه ته سلام ورکړ.

هغه هم سلامونه ته وعلیکم و ویل.

هغه هم خپه او چورتي (چرتي) و.

خپلې کوټې ته د ننه شو.

بیا یې ښځې ته غږ کړ.

ښځه یې ورغله او هغه ته یې و ویل:

څه دې ویل:

هغه وپوښتل:

ښایسته چېرې دی؟

هغې و ویل.

په بلې کوټې کې بیده دی.

بیا یې و ویل:

ډوډۍ تیاره ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


هغې و ویل:

هو!

ویې باسم؟

خان و ویل:

چا ته ګورې؟

ویې باسه چې و یې خورو.

شپې هسې لنډې دي.

هغې و ویل:

سمه ده!

بیا یې لورګانو ته غږ کړ.

دلاس اوبه واچوئ.

بیا دسترخوان اوار کړئ.

زه به کټغ و باسم.

هغوی و ویل:

سمه ده!

لاسونه پرېمنځل شوو او دسترخوان هم اوار شوو.

ډوډۍ هم د دسترخوان پر سر کېښودل شوه.

بیا د خان ښځې کټغ راوړ او پر دسترخوان یې کښېښود.

(c) ketabton.com: The Digital Library


بیا خان خپلې مشرې لور ته و ویل:

لاړه او ښایسته ته، غږ کړه چې ډوډۍ سرېږي(سړه کیږي).

هغې و منه او بلې کوټه لاړه، چېرې چې ښایسته پروت و.

هغه ښایسته ته، نږدې شوه او هغه ته یې غږ کړ.

پاڅه چې ډوډۍ تیاره ده.

هغه لږ څادر له سره لرې کړ او هغې ته یې و ویل:

زما زړه ته، نه کیږي.

مننه کوم.

هغه بېرته لاړه.

پلار یې و پوښتل:

هغه دې پاڅاوه؟

هغې و ویل:

هو!

خو هغه و ویل:

زړه ته مې ډوډۍ نه کیږي.

پلار یې څه و نه ویل او د ډوډۍ پر خوړو یې پیل کړ.

نورو هم ډوډۍ پیل کړه.

ډوډۍ وخوړل شوه، بیا دسترخوان ټول شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library
**ښکلا**

**......**

د خان ښځې چای راوړ.

چای يې په پيالو کې واچاوه.

ټولو د چای په څښلو پیل کړ.

د خان ښځې په خبرو، خبرو کې د ښکلا خبره را تاوه کړه.

بیا نورو هم د خان د ښځې خبرې نه دفاع وکړه.

خان دواړه پښې په یوې موزې کړي او ویې ویل:

زما یوه خبره او پخه خبره ده.

هیڅ کله به، بدلون و نه مومي.

هرڅه چې کیږي ودې شي.

زه خپله لنګی په ځمکه نه غورځوم.

د دې خبرو په اورېدو سره، ټول خواشينې شوو.

څه يې د لاسه نه راتلل.

شپه پخه او ټول بيده شوو.

وختونه تېرېدل او د ښايسته ستونزه، د حل لاره و نه مونده.

د ښکلا رایباران ورځ تر بلې ډېرېدل.

د ښکلا کورنۍ ناچاره (مجبوره) شوو چې د یوه رایبارسره هوکړه وکړی.

هغه يې نومانده (نامزد) کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


پټاسي و وېشل شوې.

هرې خوا د ښکلا د نوماندي ډنډورې شوې.

هغه يې د يوه ترکانې زوي چې تر شپږمه يې ښوونځي لوستی وه، نوماندە کړه.

د دې پېښې نه ښايسته خبرو شو.

کور ته لاړ.

په لپه، لپه يې وژړل.

مور يې هم د هغه سره وژړل.

د خانه پرته د هغه کورنۍ غړي ټول خپه شوو.

ښايسته ته ځمکې ځای نه ورکاوه.

کله به د باندې دېرې ته لاړ او کله به کور ته راته.

دوې شپې تېرې شوې.

بيا هغه د کلا په کوڅې کې، ښکلا وليده.

هغې ته يې و ويل:

تا ولې نوماندي (نامزادي) ومنه.

زما د کورنۍ ټول غړي راضي وو.

ما کوښښ کاوه چې خپل پلار هم، راځي کړم.

د وخت په تېرېدو سره، هغه هم راضي کېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


خو تا ژر ومنه.

هغې و ویل:

زه په خپل واک کې نه یم.

ما څو رایبارانو ته ته منفی ځواب ورکړ.

خو د ستاسو کور نه کوم رایبار، را نه غی.

بیا ښایسته زیاته کړه.

زه به د ستا پلار سره هم خبرې وکړم.

هغې و ویل:

ستا خوښه!

ورځ تېره او مازیګر شو.

ښایسته کروندو ته لاړ.

التـه بادام پر کار اخته و.

هغه ته نږدې شو او سلام یې ورکړ.

بادام د هغه سلام ته وعلیکم و ویل:

بیا یې کار پرېښود او هغه ته یې و ویل:

امر کوه باداره!

څه دې ویل؟

هغه و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library


ما غوښتل چې د ښکلا نوماندي، بېرته واخلې.

زه د هغې سره مينه لرم.

بادام و ويل:

په دې خو زه هم پوهېدم.

خو زه ستاسو کروندګر يم.

تاسو زما خانان ياست.

مونږ او تاسو سره نه جوړېږو.

کېدای شي ستا کورنۍ هم راضي نه وي.

ما بله لار، نه درلوده.

زه مجبوره وم چې هغه، نومانده (نامزاد) کړم.

اوس ناوخته ده.

دا امکان نه لري.

بيا ښايسته و ويل:

زه به يوه څه وکړم.

بادام و ويل:

خان صيب!

کوښښ وکړه کومه ستونزه جوړه نه کړې.

مونږ بې وزلي (غريب) خلک يوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


داسې چې وايې او پر ښکلا مين يې، ولې مخکې نه شوې؟

هغه و ويل:

ما خپله ټوله کورنۍ راضي کړې وه.

يوائې پلار مې پاتې و.

هغه هم د وخت په تېرېدو سره راضي کېده.

خو تا صبر ونه کړ.

بادام و ويل:

هر څه نصيب او قسمت لري.

دهغې نصيب به، د ستا سره نه وه.

ته کوښښ وکړه ښکلا هېره کړې.

پلار ته دې و وايه کومه بله او د کوم خان لور ستا د پاره وګوري.

ښايسته و ويل:

دا امکان نه لري.

زه نه شم کولای چې ښکلا هېره کړم.

ښايسته د هغه ځای نه، حرکت وکړ.

هغه نور هم خپه شوو.

لمړی دېرې بيا کور ته لاړ.

پلار کوټې ته ننوت.

(c) ketabton.com: The Digital Library


اخوا دېخوا يې و څارل.

د پلار د تومانچې ( تفنګچې) ځای يې په نښه کړ.

بيا بېرته خپلې کوټې ته لاړ.

څو دکيکې يې الته تېرې کړې.

بيا د تناره کوټې ته لاړ، چېرې چې مور يې ناسته وه.

بيا يې تېره شوې کيسه هغې ته بيان کړه.

مور يې ډېره خواشينې شوه.

هغه ته يې و ويل:

اوس کار د کار نه، وتی دی.

هغه له هېره وباسه!

ښايسته و ويل:

ما کوښښ وکړ.

خو نه کېږي.

مور يې هر څه هغه ته و ويل، مګر هغه د خپل خره نه، کوز نه شوو.

څه و خت تېر شو.

د ښکلا کوژده شوه.

ښايسته غوښتل چې د ښکلا نوماند، و وژني.

(c) ketabton.com: The Digital Library


خو په دې ورځ خان، خپله تومانچه په خپلې ملا تړلې وه.

ښایسته بریالی نه شو چې هغه و وژني.

ورځ یې په ډېره خواشینۍ سره تېره کړه.

ورځې شپې او شپې په ورځو اوښتې.

ژمی شو بیا پسرلی.

دوبی شو.

د ترکان کورنۍ د واده پرېکون له پاره، د بادام کور ته لاړل.

دوې، درې ورځې یې تېرې کړې.

بیا سره یوه جوړ، جاړي ته ورسېدل.

د واده وخت و ټاکل شو.

په دواړو کورونو کې  خوشحالۍ وې.

د واده ورځ ورسېده.

سهار وختي د بادام کور ته یې خرڅ راوړ.

د کلا په اړخ کې دېګي باندې شوو.

دېره فرش شوه.

ځوانانو هرې خوا منډې کوې.

کار ډېر ټېټ (کلک، سم) روان و.

غرمه نږدې شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د ترکانۍ کورنۍ ورسېده.

نږدې کسان د ننه شا (شاوو) سره لاړل او څه لرې کسان دېرې خوا ته و بلل شوو.

نغارې هم پیل شوې.

الکانو اتڼ پیل کړ.

ښایسته هم خپه د کوره و وت.

اخوا دېخوا یې و کتل.

خان هم په دېرې کې پر کټ ناست و.

چای ورته ایښی و.

د ناظر سره یې مرکې کوې.

ورووو، ورو غرمه شوه.

ډوډۍ تیاره شوه.

بیا یې د کلي ملا صیب، را وغوښت.

هغه دعا ولوسته.

پخلي کونکو (آشپزانو) د دېګیو سرونو په خلاصولو، پیل کړ.

د ډوډۍ ویش پیل شو.

لمړی نارینوو ته ډوډۍ ورکړ شوه، بیا ښځینوو ته.

ماسپښین شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


خلکو لمنځونه ادا کړل.

بیا د بادام کور خوا ته روان شوو.

سپین ږیري د بادام کور ته د ننه شواو د هغه یې وغوښتل تر څو د ناوې وړلو اجازه ور کړی.

ډولۍ تیاره وه.

ښځو ښکلا په ډولۍ کې د ننه کړه.

هغې د خپلې مور او خویندو سره خدای پاماني وکړه.

بیا پلار یې ور نږدې شوه.

ښکلا یې پر سر مچو کړه.

هغې ته یې د نوي ژوند مبارکي و ویله.

بیا یې هغه و هڅوه تر څو په حوصلې سره خپل نوی ژوند پیل کړي.

د هغې سترګو نه، اوښکې روانې وي.

هغه د تل له پاره له خپله کوره مېلمنه شوه.

سپین ږیرو ځوانانو ته غږ کړ.

ځوانان هم د مخه شوو.

ډولۍ اوچته او شا (شاوو) ور سره مل شو.

ډولې د کلا و وته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ښکلا**

**......**

په دې وخت کې ښایسته خپل کور ته د ننه شو.

د خپل پلار کوټې ته ننوت.

د پلار تو مانچه یې را واخیسته.

هغه یې په جب کې کېښېښوده او په منډه د کلا نه، د باندې شو.

پر خلکو یې غږ کړ.

ودرېږئ!

ښکلا چېرته وړئ؟

خلک و درېدل.

هغه تومانچې ته مرمۍ تېره کړه.

لمړی یې شا (شاوو) په زړه و ویشت.

بیایې ځوانانو ته و ویل:

ډولۍ پر ځمکه کېږدئ.

ځوانانو ډولۍ پر ځمکه کېښېښوده.

هغه ډولۍ ته نږدې شو او څادرونه یې ترې لرې کړل، بیا یې ښکلا هم په زړه و ویشته.

خلک هک پک شوو.

هېچا نه شو کولای چې ښایسته ټینګ کړي.

په دې وخت کې خان هم د ډېرې نه منډې کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


پر ښایسته یې غړ کړ.

ودرېږه.

ځان مه خوزوه.

هغه بله مرمۍ تېره کړه.

تومانچه یې سر ته و نیوه.

پر سر یې ډز وکړ.

هغه هم د شاوو او ناوې سره نږدې ساه ورکړه.

ډېر بد حالت وو.

چا څه نه شوای کولای.

د کلا نه هم خلکو منډې کړې.

د ښایسته مور، ورور، خویندې هم و رسېدې.

پر مړو یې ځانونه واچول.

چیغې او ژړاګانې پیل شوې.

بیا سپین ږیری سره راټول شوو.

د خان سره دېرې ته لاړل.

الته یې لنډه جرګه پیل کړه.

د جرګې فیصله شوه چې دربواړه سره خوا په خوا د کلي په ادیرې کې خاورو ته وسپارل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ښکلا**

**......**

مړي یې دېرې ته، ولېږدول.

ځوانانو ته یې لارښوونه (هدایت) وکړه تر څو قبرونه وشکوې.

ځوانانو بېلونه واخیستل.

هغوی ادیرې خوا منډې کړې.

شکونې پیل شوې.

نور خلک هم راټول شوو.

مازیګر وو.

ملا امام و ویل:

وخت حساس او لږ دی.

باید د جنازې لمونځ ادا کړو.

خلک سره راټول شوو.

د جنازې لمونځ یې، ادا کړ.

بیا یې مړي په کټونو کې کېښودل.

ځوانانو جنازې پر اوږو کړې.

د ادیرې خوا ته روان شوو.

التـه ورسېدل.

مړي یې ګورونو(قبرونو) ته ښکته کړل.

خاورې یې پرې واچوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


بیایې تازه ګلونه پر قبرو کېښودل.

ملا امام خپل وعظ او نصیحت پیل کړ.

له دواړو کورنۍ یې و غوښتل چې له صبر او زغم نه کار واخلي.

ټول بېرته کلي ته روان شوو.

سپین ږیرو و ویل:

د نورو خبرو د پاره باید جرګه وټاکل شي.

ټول به د جرګې فیصلې و مني.

د دواړو کورنۍ سره و منه.

خلک خپلو کورونو ته لاړل.

جرګې پیل شوې.

هره ورځ به د خان په دېرې کې جرګي غړي او سپین ږیري سره را ټولېدل.

هغوي به راز، راز بحثونه کول.

د کلي امام هم په جرګې کې و.

ورو، ورو د جرګې پایلې ته نږدې شوو.

جرګې فیصله وکړه چې خان دی د درېواړو رسم او رواج مراسمو مصرف تر یوه کلنۍ پورې په غاړه واخلي، هم دې یوه پسه له شل منو وریجو سره د بادام او ترکان کورته یوسي.

فیصلې و منل شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


خان تولې فيصلې عملي کړې.

هغه د خپل په درېز ډېر خفه او پښېمانه و.

خو څه يې د لاسه نه راتلل.

**ځکه!**

کار دکاره تېر و.

په درې ژبې کې ډېر مشهور متل دی چې وايی:

ضرب المثل:

«يک لحظه غفلت، يک عمر پشيمانی»

**پای**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**بنکلا**

**......**

## د چاپ شویو کتابونو لیست

١. معماری افغانستان
٢. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش شفاخانه ها)
٣. راهنمود طلايي
(برای اساتید انستیتوت های تخنیکي و ساختمانی افغانستان)
٤. رسم تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد اول
٥. رسم تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد دوم
٦. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش اداری)
٧. معماری اصیل شهر کابل (مرادخانی)
٨. معماری شهر کابل (بی بی مهرو)
٩. افغانستان در قرن تکنالوژی
١٠. زونبندی اقلیم و زلزله افغانستان
١١. صدقه جاریه / دنیای انجینری
١٢. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت جلد اول (١٩٩٠ الی ٢٠٢١)
١٣. داستان حقیقی با مقیاس معماری
١٤. فرار از کشور- با تصاویر مستند
١٥. نقش دانشمندان مسلمان در فن معماری و مهندسی
١٦. پخسه در افغانستان
١٧. بنیا نگذاری اولین مساجد توسط افغانها در آسترلیا
١٨. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت جلد دوم (١٩٩٠ الی ٢٠٢١)

(c) ketabton.com: The Digital Library


۱۹. منار جام - الهامی برای قطب منار
۲۰. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد سوم (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)
۲۱. جام یا کلیان ( کلان)
۲۲. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد اول
۲۳. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد دوم
۲٤. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد سوم
۲۵. چېر ته چې قانون نه شته (ګډوډي د افغانستان په معمارۍ کې)
۲٦. مډرنه جوما تونه ,, پخوا او نن ،،
۲۷. هله جور کو (نی پخسه – مقاوم زلزله)
۲۸. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مساجد)
۲۹. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مکاتب)
۳۰. هنر و صنعت چوب در مرادخانی
۳۱. هنر و پیشه حکاکې - زرگری در مرادخانی
۳۲. هیچ (چهل داستان واقعی)
۳۳. معماری اصیل شهر کابل
(تشریح مورخ ۱۷ ماه میزان سال ۱۴۰۱ پوهنتون پولی تخنیک کابل)
۳٤. ۴۰- چهل
۳۵. مجنون او ګلچین (پښتو ناول)
۳٦. در جستجو (ناول به زبان دری)
۳۷. تفاوت ها تفاوت می آورد (کتاب تصویری)
۳۸. مجموعه از دروس دینی مولوي صاحب خيرالله مخدوم (جلد اول)

(c) ketabton.com: The Digital Library


٣٩. برف ها آب میشود
٤٠. رسم و تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد سوم
٤١. آرزو و امید (ناول به زبان دری)
٤٢. بوډا ښکاري (پښتو ناول)
٤٣. نامنوني ژوي (پښتو ناول)
٤٤. د اسلامي معمارۍ پیل
٤٥. حیوانات شوخ ( ناول به زبان دری)
٤٦. مجموعه از دروس دینی مولوي صاحب خیرالله مخدوم (جلد دوم)
٤٧. د شپیلۍ مینه (مه ینه) په کچه ګړۍ کې (پښتو ناول)
٤٨. حشمت خان د کلا معماري
٤٩. د افغان الک او آذري جلۍ مینه (پښتو ناول)
٥٠. د وچو بنونه او پارکونو معماري
٥١. د یوې ښونکي مینان په یوه ټولګي کې (پښتو ناول)
٥٢. د ژرنده ګړي ماما مینه (پښتو ناول)
٥٣. په اسلامي نظام کې ودانیز پرمختګ
٥٤. شپېنه ادې (پښتو ناول)
٥٥. بې زده کړې پوی (پښتو ناول)
٥٦. د مینې تاو (پښتو ناول)
٥٧. (BIM) په خپله ژبه - په نړۍ کې تر ټولو نوې او ګړندۍ کړنلاره د معمارانو او اینجینېرانو(انجینرانو) له پاره
٥٨. مجموعه از دروس دینی مولوي صاحب خیرالله مخدوم (جلد سوم)
٥٩. سیدو او عیدو - د کوشنیوالي خواره ملګري (پښتو ناول)
٦٠. د یوې میاشتې ناوې (پښتو ناول)
٦١. دخاځکو هار (د یوه سړی لنډې کیسې)

(c) ketabton.com: The Digital Library


٦٢. د کابل ښار اصلي معماري (مراد خانی)
٦٣. کوشنۍ سوداګره (پښتو ناول)
٦٤. د کابل ښار معماري - بي بي مهرو
٦٥. سرغندوی (ناب، مشهور) پوډري
٦٦. ډارونکی سېلاب ( پښتو ناول)
٦٧. خواریکښ قاضي (پښتو ناول)
٦٨. د پخوانیو جوماتونو توپیر د نن سره
٦٩. د مور وژونکی (قاتل)، (پښتو ناول)
٧٠. د مور مېړه (پښتو ناول)
٧١. مجموعه از دروس دینی مولوي صاحب خیرالله مخدوم (جلد چهارم)
٧٢. لېونی ملا (پښتو ناول)
٧٣. ځوان شهید (پښتو ناول)
٧٤. توده بړستن (پښتو ناول)
٧٥. نورک اکا (پښتو ناول)
٧٦. غریبک (پښتو ناول)
٧٧. د ژوند خوږې او ترخې (پښتو ناول)
٧٨. الماء [دیارلس کلنه فلسطینی انجلی تر نړیدلي ودانی (پښتو بهرنی ناول)]
٧٩. مجموعه از دروس دینی مولوي صاحب خیرالله مخدوم (جلد پنجم)
٨٠. ادبي لښتي / چوب ادبی
٨١. د ښاروالی کاریګر (پښتو ناول)
٨٢. د خاورو لاندې ښار (د عینک مسو کان ته څېرمه)
٨٣. شهری زیر خاک (نزدیک معدن مس عینک)
٨٤. ساختمان های کانتینری
٨٥. کانتینري ودانی

(c) ketabton.com: The Digital Library


......


٨٦. Architecture of Buddist temple in Kabul city
٨٧. ښکلې هوسۍ (پښتو کیسه)
٨٨. خړه بیزو(پښتو کیسه)
٨٩. سور تنور(پښتو ناول)
٩٠. سپین کارغه (پښتو داستان)
٩١. لېونی لېوه (پښتو داستان)
٩٢. بندي مرغه (پښتو داستان)
٩٣. بې وخته سېلاب (پښتو ناول)
٩٤. ملا نصرالدین سره د دوکې پایله (پښتو ناول)
٩٥. د یوی بهلول غوره پرېکړه (پښتو داستان)
٩٦. د کابل ښار لمړي ګمرک اداري ودانۍ معماري
٩٧. ناکامه مینه (پښتو ناول)
٩٨. سنګلاخ دره او معماري
٩٩. عشق در کانتینر ها (ناول به زبان دری)
١٠٠. مادل اندازه گیری اسلامی
١٠١. په ګاونډ هېواد کې زړه بایلل (پښتو ناول)
١٠٢. بازی ها وسپورت های محلی مردم افغانستان - جلد اول
١٠٣. منار های غزنی – گذشته و حال
١٠٤. توري چشمې (عینکې) پښتو ناول
١٠٥. د چک ولسوالۍ نه (٩) برجه کلا
١٠٦. د یوې شپې ناوې (بهرنی پښتو ناول
١٠٧. ښکلا (پښتو ناول)

(c) ketabton.com: The Digital Library


**د کار لاندې کتابونو لیست**

١. هنر خطاطی و میناتوری در مراد خانی
٢. هنر کلالی در مرادخانی
٣. بې وخته باران
۴. د ژوند پای

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د وخت او امکان په صورت کې

١. پخسه در افغانستان (به زبان انگلیسی)
٢. تاریخ معماری افغانستان
٣. حویلی های آسمان خراش
٤. ارتباط گذ شته، حال و آینده در معماری
٥. استعداد، سرعت و اقتصاد در معماری افغانستان
٦. شیطان چراغ
٧. خاطره ها

(c) ketabton.com: The Digital Library

# The

The Beauty

# Beauty

Written by: Architect PHD Hashmatullah Atmar

Date: November- Desember / 2028

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**